د هغه له مال څخه په مناسب ډول دومره واخله چې تاسو او ستا کوچنيانو ته بسنه وکړي

له ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: د ابو سفيان مېرمن؛ هند بنت عتبة د رسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته ورغله او ويې ويل: اې د الله رسوله! ابو سفيان يو بخيل سړی دی، ما او زما بچيانو ته دومره نفقه نه راکوي چې بسنه وکړي، مګر دا چې د هغه له مال څخه د هغه له پوهې پرته واخلم، آيا پدې کې زما لپاره کومه ملامتيا شته؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:«د هغه له مال څخه په مناسب ډول دومره واخله چې تاسو او ستا کوچنيانو ته بسنه وکړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

هند بنت عتبة رضي الله عنها له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د خپل مېړه ابو سفيان رضي الله عنه په اړه پوښتنه وکړه، چې هغه يو بخيل سړی دی او په خپل مال ډېر حريص دی او هغې ته دومره نفقه نه ورکوي چې هغې او کوچنيانو ته يې بسنه وکړي، مګر دا چې هغه يې د هغه له مال څخه په پته د هغه له خبرتيا پرته څه واخلي، نو آيا په دې کې پر هغې کومه ګناه شته؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه له شتمنۍ څخه د ځان او خپلو ماشومانو لپاره دومره اندازه واخله چې په دوديز ډول کافي ګڼل کېږي، حتى که د هغه له پوهې پرته وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2965